# د پناغوښتنې غوښتنلیک

## د پناه غوښتنې د عمومی طرزالعمل اړوند معلومات

**تاسو ولې دا لیک ترلاسه کړ؟**

تاسو په هالنډ کې د پناه غوښتنه کړې ده  پناه غوښتنه یعنی  په یو بل هیواد کې د هغو کسانو لپاره خوندیتوب چې په خپل هیواد کې خوندی نه وی او نه شی کولای په خپل هیواد کې خوندیتوب ترلاسه کړی

کله چې تاسو د پناه غوښتنه کوئ، تاسو په رسمی ډول د هالنډ حکومت څخه د استوګني د جواز غوښتنه کوئ  تاسو په هالنډ کې د ژوند کولو لپاره دې جواز ته اړتیا لرئ  ستاسو د پناه غوښتنې له غوښتنلیک وروسته، د پناه غوښتنې پروسه پیلیږی  دا یوه قانوني پروسه ده چې په ترڅ کې به یې د هالنډ حکومت دا ارزونه کوی چې ایا تاسو د استوګنې جواز ترلاسه کوئ

په دې رساله کې، تاسو کولای شئ دا ولولئ چې د پناه غوښتنې پروسې په جریان کې څه پیښیږی  تاسو به هغه څه ولولئ چې تاسو یې ترسره کولو ته اړتیا لرئ  ستاسو مکلفیتونه   او  هغه څه چې تاسو یې د هالنډ له حکومت څخه   د خپلو حقونو   په اړه تمه کولای شئ

# تاسو به د کومو سازمانونو سره مخ شئ؟

**Centraal Orgaan opvang asielzoekers** (COA) په هالنډ کې د پناه غوښتونکو لپاره د پناه غوښتنې پروسې په جریان کې د بنه راغلاست او لارښوونې چارې چمتو کوی. COA به تاسو ته خواړه او روغتیایي بیمه هم درکړي. COA کولای شي ستاسو د ډاکټر سره اړیکه ونیسي. COA یوه خپلواکه اداره ده او ستاسو د پناه غوښتنې په اړه پریکړه نه کوي.

www.coa.nl

**GezondheidsZorg Asielzoekers** (GZA) هغه سازمان دی که تاسو ناروغ یاست یا طبي پوښتنې لرئ، نو ورسره به اړیکه کې یاست. د GZA روغتیایي مرکز د COA د بنه راغلاست په هر مرکز کې یا ورسره نږدې شته. GZA ستاسو لپاره د مرستیال ډاکټر، نرس، د GGZ تمریني چارو مرستیال یا عمومي ډاکټر سره ملاقاتونه تنظیموی.

www.gzasielzoekers.nl

**VluchtelingenWerk Nederland** (VWN) د بشری حقونو یو خپلواک سازمان دی چې د پناه غوښتونکو د امتیازاتو استازیتوب کوي. VWN د پناغوښتنې د پروسې په اړه معلومات او تشریح ورکوی، تاسو باخبره ساتي او د پروسې په چارو کې ستاسو سره ملګرتیا کوي او له نورو سازمانونو سره د منځګړیتوب چارې مخ ته وړي. او په دې برخه کې ستاسو د وکیل سره نږدې کار کوي. VWN ستاسو د پناه غوښتنې د غوښتنلیک په اړه پریکړه نه کوي.

www.vluchtelingenwerk.nl
www.refugeehelp.nl

**Raad voor Rechtsbijstand** (RvR) تاسو ته ډاډ درکوي چې که تاسو خپله چارې مخته نه شئ وړلای، کولای شئ د یو وکیل څخه مرسته وغواړئ. RvR دې وکیل ته د همدې مرستې په بدل کې پیسې ورکوي. وکیل د RVR په استازیتوب کار نه کوی.
دا وکیل په خپلواکه توګه د قانوني مرستې چمتو کونکی دی چې ستاسو د پناه غوښتنې په پروسه کې درسره مرسته کوي.

www.rvr.org

**Immigratie- en Naturalisatiedienst** (IND) د هالنډ د عدلیې او امنیت وزارت یوه برخه ده. د پناه غوښتنې اداره (IND) په دې اړه څېړنه کوي چې ایا تاسو په هالنډ کې د پناه غوښتنې حق لرئ که نه. له همدې امله تاسو د اړوندو کارمندانو سره خبرې کوئ چې تاسو څوک یاست. او ولې تاسو په هالنډ کې د پناه غوښتنه کړې ده؟ IND ستاسو د شخصي کیسې او ستاسو په اصلي هیواد کې د وضعیت ارزونه کوي. له دې وروسته، IND پریکړه کوی چې ایا تاسو کولای شئ (په موقت ډول) په هالینډ کی پاتی شئ که نه.

www.ind.nl

د **امنیت ساتونکي** د IND په ودانیو او د COA د بنه راغلاست په مرکزونو کې شته. تاسو به دوی د یونیفورم له مخې وپیژنئ. دوی ستاسو د خوندیتوب لپاره هماله وي. تاسو کولای شئ له دوی څخه وپوښتئ چې په ودانیو او د IND او COA په تاسیساتو کې د څه شي اجازه لرئ او څه شي اجازه نه لرئ. دا امنیتي ساتونکي ستاسو د پناه غوښتنې د غوښتنلیک پر پریکړه هیڅ اغیزه نلری.

**Dienst Terugkeer en Vertrek** (DT&V) د هالنډ د عدلیي او امنیت د وزارت یوه برخه ده او د هالنډ د بېرته ستنېلو د پالیسی د پلي کولو مسؤولیت لري. که د IND لخوا ستاسو د پناه غوښتنې غوښتنلیک رد شي، DT&V به ستاسو اصلي هیواد ته د ستنولو په اړه ستاسو سره مرکه وکړي.
www.dienstterugkeerenvertrek.nl

**Internationale Organisatie voor Migratie** (IOM) یوه خپلواکه اداره ده چې په ټوله نړۍ کې د کډوالو ملاتړ کوي. کله چې تاسو غواړئ په خپلواک ډول هالنډ پرېږدئ IOM کولای شی ستاسو سره مرسته وکړي. IOM تاسو ته د بېرته راستنېدو او ادغام په اړه عملي معلومات درکوي او له هالنډ څخه ستاسو د وتلو په چارو کې ستاسو لارښوونه او همږغي کوي. تاسو کولای شئ د VWN، DT&V، IOM یا خپل وکیل سره مستقیم اړیکه ونیسئ ترڅو په دې برخه کې ستاسو سره مرسته وکړي.
www.iom-nederland.nl

د هالنډ د مدني قانون له مخې، Nidos هغه رسمي اداره ده چې د بې سرپرسته بهرنیو کوچنیانو ساتنه کوي. Nidos پر ځان د بسیا کېدو پر لور د ځوانانو پرمختګ ارزوي او کله چې دا پرمختګ ودرېږي، یاده اداره مداخله کوي. په NIDOS کې مسلکي کسان دخیل دي او په داسې حال کې چې کلتوری شالید ته درناوی کوي، د ځوانانو پر انفرادي امتیازاتو باندې تمرکز کوي. Nidos د پناه غوښتونکو ماشومانو څارنه هم کوي چې د COA لخوا ورته بنه راغلاست ویل شوی وي څکه چې د کورنۍ روزنه په ښه توګه پرمخ نه ځي. په دې حالت کې، Nidos د والدینو ملاتړ کوي ترڅو دوی د والدینو مسؤلیت او وضعیت ته بېرته راوګرځوي.
www.nidos.nl

**Dienst Justitiële Inrichtingen** (DJI) د هالنډ د عدلیي او امنیت وزارت یوه برخه ده. که تاسو د یو کېدوال په توګه په توقیف کې یاست، نو تاسو به په یوه بنده ودانۍ کې پاتې شئ. DJI د دې ودانۍ چارې اداره کوي. د DJI کارمندان یونیفورم اغوندي. کله چې تاسو په بند ودانۍ کې یاست، دوی به ستاسو لارښوونه کوي.
www.dji.nl

## له تاسو څخه د څه تمه کیږي؟

د پروسې په جریان کې، دا مهمه ده چې تاسو په روښانه ډول دا واضح کړئ چې تاسو ولې په هالینډ کې محافظت ته اړتیا لرئ. له تاسو څخه دا تمه هم کیږي چې ټول هغه شواهد چې تاسو یې د ځان سره لرئ یا یې ترلاسه کولای شئ لکه ستاسو اسناد یا د مثال په توګه، ستاسو د کیسې ملاتړ سندونه IND وښایاست

ستاسو د راجستریشن مرکې څخه وړاندې به تاسو د اسنادو د لیږلو په اړه د IND یوه دوسیه ترلاسه کړئ ایا تاسو د رجسټرېشن له مرکې وروسته خپل د پناه غوښتنې اړوند مهم اسناد ترلاسه کوئ؟ پدې رساله کې تاسو کولای شئ دا ولولئ چې څنګه دا اسناد IND ته وسپارئ

ایا ستاسو په شخصی وضعیت کې داسې څه شته چې IND باید په پام کې ونیسي؟ بیا تاسو کولای شئ ددې وضعیت په اړه VluchtelingenWerk (VWN) IND راپور ورکړئ

بیا IND شي په دې اړه اقدامات وکړي، د بیلګې په توګه د مرکو په جریان کې یا د COA ښه راغلاست په مرکز کې IND هڅه کوي چې تاسو ته تر ټولو غوره ملاتړي خدمات چمتو کړي

## ستاسو د پناه غوښتنې پروسې لپاره چمتووالی نیسئ؟

د ارام او چمتووالي د وخت RVT جریان کې، تاسو د COA ښه راغلاست په مرکز کې ژوند کوئ

عموما په RVT طبی معاینه ترلاسه کیږي ترڅو معلومه کړي چې ایا تاسو کولای شئ مور ته د پناه غوښتنې د دلایلو په اړه وواياست په RVT به تاسو د VluchtelingenWerk (VWN) پناه غوښتنې د پروسې په اړه معلومات ترلاسه کړئ

VWN پناه غوښتنې د پروسې په جریان کې ستاسو لارښود او ملاتړ کوي دا مرستې وړیا دی مخکې له دې چې د پناغوښتنې پروسه پیل شی، تاسې به له خپل وکیل سره وګورئ ستاسو وکیل د پناه غوښتنې په اړه په قوانینو او مقرراتو پوهیږی او ستاسو سره مرسته کوي چې د تفصیلی مرکې لپاره ځان چمتو کړئ دا مرکه د IND خبرې اترې دی چې هلته تاسو دا تشریح کوئ چې ولې تاسو د پناه غوښتنه کوئ عموما ستاسو د وکیل مرسته وړیا وي

که تاسو د 15 یا ډیر عمر لرونکي ماشومان لرئ، نو دوی به خپله مفصله مرکه ترسره کوي ایا تاسو د 12 15 ترمنځ ماشومان لرئ چې د پناه غوښتنې لپاره خپل دلایل لري؟ بیا دوی هم کولای شي که وغواړي چې د IND خپله مفصله مرکه ترسره کړي تاسو کولای شئ په دې اړه خپل وکیل ته راپور ورکړئ

## ورځ په ورځ د پناه غوښتنې پروسه

په هغه ورځ چې تاسو د IND ملاقات کوئ، تاسو به د IND ته لاړشئ دا هغه ځای دی چې د پناه غوښتنې عمومی پروسه AA وخت نیسي د پناغوښتنې عمومي پروسه اوږده هم وي AA 6 AA، چې معمولا 9 دوام کوي AA+ پناه غوښتنې د غوښتنلیک لپاره ځانګړې پروسه ده چې تمه کیږي IND اوږده تعقیبي مرکه ترسره کړي یا به و غواړي چې نور تحقیق وکړي او همدارنګه د پناه غوښتونکو لپاره چې د رواني یا فزیکي ستونزو له امله ډیرې پاملرنې ته اړتیا لري د RVT وروسته، IND کوي چې ایا AA ته لاړ شي که AA ته

د پناغوښتنې پروسې په جریان کې، تاسو کولای شئ د استوګنې په هماغه ځای کې پاتې شئ چې هلته تاسو د پروسې د چمتووالی پرمهال پاتې شوي یاست ځیني وختونه، د RVT تاسو د IND ته نږدې د ښه راغلاست استوګنځي ته ځئ د IND د خبرو اترو لپاره به تاسو د IND ته انتقال شئ، البته په هغه صورت کې نه چې واټن نږدې وي او تاسو کولای شئ چې پر پښو ورشئ لاندې تاسو دا لوستلای شئ چې د پناغوښتنې پروسې اړوند هره ورځ باید څه وشي

*د عمومي پناه غوښتنې طرزالعمل AA*

**1 ورځ: تفصیلي مرکه**

تفصیلي مرکه د IND یو کارمند سره خبرې اترې دي په دې مرکه کې کولای شئ د خپلې پناه غوښتنې دلایل په تفصیل سره تشریح کړئ د مرکې په جریان کې به له تاسو څخه پوښتنې هم وشي که تاسو غواړئ، کولای شئ د VWN غوښتنه وکړئ چې په تفصیلی مرکه کې ستاسو سره ملګرې شي تاسو دا هم کولای شئ دا مرکه د خپل وکیل له لارې تنظیم کړئ

د تفصیلي مرکي په جریان کې به یو ژباړونکی حاضر وي IND هالندي ژبه پوښتني کوي ژباړونکی به دا پوښتني هغې ژبې ته ژباړی چې تاسو وربانديږ پوهیږئ ژباړونکی ستاسو څوابونه هالنډي ژبې ته ژباړي ژباړونکی یو خپلواک شخص دی، د IND کار نه کوی او ستاسو د پناه غوښتني پر پریکړه باندې هیڅ اغیزه نلری مهم که تاسو او ژباړونکی په سمه توګه د یو بل په خبرو نه پوهیږئ، نو سمدستي موږ ته ووایاست IND هڅه وکړي چې یو بل ژباړونکی برابر کړي دا مهمه ده چې تاسو پوښتني په سمه توګه درک کړئ ترڅو د غلط فهمۍ مخه ونیول شي د IND به د تفصیلي مرکي راپور چمتو کړي ایا تاسو د خپل واده شوي ملګري سره یوځای د پناه غوښتنه کړې ده؟ بیا به تاسو هر یو د IND کارمند سره په جلا توګه مرکه ولرئ

دا مهمه ده چې تاسو موږ ته هرهغه څه ووایاست چې له امله یې تاسو محافظت ته اړتیا لرئ د هغه څه په اړه رینښتني، بشپړ او روښانه وړغیږئ چې ستاسو سره پیښ شوي دي او ولې تاسو نه شئ کولای په خپل اصلي هیواد کې خوندیتوب ولرئ که تاسو یوه ځانګړې او مشخصه پیښه په یاد نه وي، په اړه یې IND ووایاست د IND ستاسو په هیواد کې د عمومي وضعیت څخه خبر دي دا مهمه ده چې تاسو د خپل وضعیت په اړه خبرې وکړئ ولې تاسو شخصي محافظت ته اړتیا لرئ؟ د امکان تر حده د اړوندو توضیحاتو په اړه ډېر څه ووایاست ایا تاسو د خپل پناه غوښتني د غوښتنلیک اړوند کومې فزیکي یا رواني ستونزې لرئ؟ که داسې څه وي، نو دا مهمه ده چې تاسو یې په اړه IND ووایاست بیا به IND وکړي که چیرې IND د غوښتنلیک ارزولو لپاره دا ښه وګڼي نو تاسو ته به د طبي معاینې وړاندیز وکړي تاسو کولای شئ دا معاینه پخپله او په خپل لګښت ترسره کړئ
په دې مرکه کې به یو ژباړونکی هم حاضر وي تاسو به د تفصیلي مرکي راپور له IND ستاسو د وکیل څخه ترلاسه کړئ

## 2 ورځ: د تفصیلي مرکي په اړه بحث کول

ستاسو وکیل به ستاسو سره د تفصیلي مرکي د راپور په اړه بحث وکړي د دې خبرو اترو په جریان کې به یو ژباړونکی هم مرسته کوي چې هر هغه څه وژباړي چې تاسو او وکیل یې وایئ که چیرې په راپور کې یو شی ورک شوی یا غلط وي، نو ستاسو وکیل به په دې اړه د یو لیک له لارې IND راپور ورکړي

## 3 ورځ: لومړی پریکړه

IND ارزونه کوي چې ایا تاسو د پناه غوښتني د اجازې لرلو شرایط پوره کړي دي د دې ارزونې پایله به دا معلومه کړي چې ستاسې د پناغوښتني پروسه څنګه پرمخ ځي دلته 3 شته

1. تاسو د پناه غوښتني د اجازې شرایط پوره کړي دي تاسې به د د خپل وکیل له لارې د IND پرېکړې لخوا یو لیک ترلاسه کړئ چې پکې ویل شوي وي چې ستاسې د پناه غوښتني غوښتنلیک منظور شوی دی تاسو کولای شئ په لنډمهاله توګه په هالنډ کې پاتې شئ ستاسو وکیل به دا تشریح کړي چې دا پرېکړه به پر تاسو څنګه اغیزه وکړی
2. د پناه غوښتني اداره IND پلټني لپاره ډېر وخت ته اړتیا لري او نه شي کولای د 6 یا په AA کې د 9 په جریان کې ستاسو د پناه غوښتني په اړه پریکړه وکړي IND ستاسو د پناه غوښتني په تمدید شوي پروسه VA نور پروسس هم وکړي ورسته به ستاسې د پناه غوښتني د غوښتنلیک په اړه پرېکړه وشي تاسو به د پناه غوښتني د دې تمدید شوي پروسیجر په اړه د معلوماتو لپاره یوه بله رساله ترلاسه کړئ
3. IND دا قضاوت کوي چې تاسو د پناه غوښتني د اجازې شرایط نه دي پوره کړي تاسو به د خپل وکیل له لارې د IND یو لیک ترلاسه کړئ چې پکې ویل شوي چې IND د پناه د غوښتنلیک د ردولو اراده لري دا لیک د ارادې په نوم یادېږي په دې لیک کې د غوښتنلیک د ردېدلو لاملونه او دا چې ستاسو لپاره یې عواقب څه دي هم په نظر کې نیول شوي وي ستاسو وکیل به د دې لیک په اړه ستاسو سره بحث وکړی

## 4 ورځ: پریکړې ته غبرګون

که چیرې IND لری چې ستاسو د پناه غوښتني غوښتنلیک رد کړي، نو د خپلې ارادې په هکله له خپل وکیل سره بحث وکړئ بیا ستاسو وکیل کولای شي IND د پریکړې په اړه لیکلی غبرګون واستوي دا یو لیک دی چې په رسمي ډول د IND ته

غبرګون پکې بنودل شوی وي  په دې لیک کې، تاسو کولای شئ دا تشریح کړئ چې ولې تاسو د  ارادې  نومې پرېکړې سره موافق نه یاست

**5 او 6 ورځ: پریکړه**

ستاسو د غبرګون یا ځواب لوستلو وروسته به IND چې ایا د ردېدلو پرېکړه یا اراده باید تنظیم شي  د دې پرېکړې پایله دا په ګوته کوي چې ستاسي د پناغوښتنې پروسه څنګه روانه ده  تاسو به  ستاسو د وکیل له لارې  یو لیک ترلاسه کړئ په هغه کې به د IND  دې ارزونې د پایلې راپور وي  ستاسو وکیل به دا تشریح کړي چې دا پرېکړه به پر تاسو څنګه اغیزه وکړی  دلته 3 شته

1. ستاسو په غبرګون کې ستاسو د نظر لوستلو وروسته، IND چې تاسو د پناه غوښتنې د اجازې شرایط پوره کړي دي  تاسې به د  د خپل وکیل له لارې  د IND پرېکړي  لخوا یو لیک ترلاسه کړئ چې پکې ویل شوي وي چې ستاسې د پناه غوښتنې غوښتنلیک منظور شوی دی  تاسو کولای شئ  د اوس لپاره  په هالنډ کې پاتې شئ  ستاسو وکیل به دا تشریح کړي چې دا پرېکړه به پر تاسو څنګه اغیزه وکړی
2. د پناه غوښتنې اداره IND پلټنې لپاره ډېر وخت ته اړتیا لري او نه شي کولای د 6 یا په AA کې د 9 په جریان کې  ستاسو د پناه غوښتنې په اړه پریکړه وکړي IND په VA ستاسو د پناه غوښتنې غوښتنلیک پروسس ته دوام ورکړی  تاسو به د پناه غوښتنې د دې تمدید شوي پروسیجر په اړه د معلوماتو لپاره یوه بله رساله ترلاسه کړئ
3. لا تراوسه د IND دا نبیې چې تاسو د پناه غوښتنې د اجازې شرایط نه دي پوره کړي  تاسو به  د خپل وکیل له لارې  د IND څخه یو لیک ترلاسه کړئ چې پکې ویل شوي چې ستاسو د پناه غوښتنه رد شوې ده  په پریکړه کې د غوښتنلیک د ردېدولو لاملونه او دا چې ستاسو لپاره به یې پایلې څه وي تشریح شوي وي  د مثال په توګه ، تاسو نور په هالنډ کې د پاتې کیدو اجازه نه لرئ او تاسو باید بیرته خپل هیواد ته ستانه شئ  په دې کې دا هم ویل شوي وي چې که تاسو د پناه غوښتنې د ردېدلو سره موافق نه یاس، نو تاسو څه کولای شئ  او دا چې تاسو خپل هیواد ته د بیرته ستنیدو لپاره څه کولای شئ؟ ستاسو وکیل به ستاسو سره د دې حکم په اړه بحث وکړي

*د عمومي پناه غوښتنې پروسیجر 9 ورځې AA*

ایا IND د پناه غوښتنې غوښتنلیک د AA لارې پروسس کوي؟ بیا ستاسو د پناه غوښتنې پروسه معمولا 9 وخت نیسي

- 1 2 تفصیلی مرکه؛
- 3 4 د وکیل سره د تفصیلی مرکې په اړه بحث کول؛
- 5 لومړۍ پریکړه؛
- 6 7 د وکیل د پرېکړې غبرګون؛
- 8 9 دوهمه پرېکړه

## د خپل غوښتنلیک بیرته اخیستل

تاسو کولای شئ هر وخت خپل غوښتنلیک لغوه کړئ  په دې حالت کې ښه داده چې د وکیل یا IND اړیکه ونیسئ  ایا تاسو د IND خپل غوښتنلیک بیرته اخلئ؟ تاسو نور نه شئ کولای په هالنډ کې پاتې شئ  البته تاسو کولای شئ د بل دلیل له مخې دلته پاتې شئ  تاسو نور د ښه راغلاست اجازه نه لرئ  ایا تاسو خپل د پناه غوښتنلیک بیرته اخلئ؟ تاسي کولای شئ عدم دخول ترلاسه کړئ  د

پایلې په توګه، تاسي اجازه نه لرئ د یوې ټاکلې مودې لپاره د اروپایي ټولني هیوادونو EU ناروې، ایسلینډ، لیچټینسټین او سویس ته سفر وکړئ یا هلته و اوسئ ستاسو د پناه غوښتني د غوښتنلیک بیرته اخیستو وروسته، تاسو کولای شئ بیا د پناه غوښتنه وکړئ آن که تاسو د عدم دخول د بندیز سره مخ هم یاست

## د پناه غوښتنې له پروسې وروسته

د AA AA به تاسو د COA ښه راغلاست ځای ته لاړ شئ

### تاسي د استوګنې اجازه ترلاسه کوئ

که چیرې IND د پناه غوښتني د غوښتنلیک په اړه مثبت پریکړه وکړي، نو تاسو کولای شئ د اوس لپاره په هالنډ کې ژوند وکړئ تاسو د استوګنې جواز ترلاسه کړئ، تاسو د کار کولو اجازه لرئ او تاسو کولای شئ د کورنۍ کوم غړی راولئ سربیره پردې، COA سره د هستوګنځي په موندلو کې مرسته کوي د COA په مرکه کې، ستاسو د کور اړوند مهم معلومات ثبت شوي دي پر دې اساس، تاسو به په هالنډ کې ښاروالۍ ته معرفي شئ بیا به ښاروالۍ د مناسب کور په لټه کې وي ښاروالي تاسي ته یواځې یو ځل د هستوګنې وړاندیز کوي او تاسي باید دا وړاندیز قبول کړئ تر څو چي تاسو خپل د اوسیدو ځای پیدا کوئ، تاسو کولای شئ د COA ښه راغلاست په مرکز کې پاتې شئ د پناغوښتني د غوښتنلیک له ورکړي وروسته به تاسي ته ستاسي د حقونو او مکلفیتونو په اړه مالومات درکړل شي د VWN کولای شی ستاسو سره په هالنډی ټولنه کې د ادغام په برخه کې مرسته وکړي دوی به تاسو سره بېلابېلو سازمانونو ته د لاري موندلو په چارو کې مرسته وکړي او همداراز به ستاسو سره ښاروالي ته د تګ او د زده کړې یا کار په موندلو کې مرسته وکړي همداراز VWN شي ستاسو سره د کورنۍ د غړو د راوستلو په چارو کې مرسته وکړي

### تاسو به د استوګنې اجازه ترلاسه نه کړئ

که ستاسو د پناه غوښتني غوښتنلیک رد شي، تاسو کولای شئ د خپل وکیل سره په مشوره د هالنډ محکمې ته د دې پریکړې په اړه د استیناف غوښتنه وکړئ دا په دې مانا ده چې تاسو په رسمي ډول محکمې ته راپور ورکوئ چې تاسو د IND پریکړې سره موافق نه یاست تاسو به معمولا په هالنډ کې د استیناف پروسې ته انتظار کوئ که ددې اجازه و نه لرئ، تاسو کولای شئ له قاضي څخه وپوښتئ چې ایا تاسو کولای شئ د استیناف پروسې په جریان کې په هالنډ کې پاتې شئ ستاسو وکیل به په دې برخه کې ستاسي سره مرسته وکړي قاضي به بیا وګوري چې آیا IND د پناه غوښتني په اړه د پریکړې پرمهال د هالنډ قانون په سمه توګه پلي کړی دی

که چیرې IND د پناه غوښتنه رد کړي، تاسو به د پناه غوښتونکو بل مرکز ته ولیږدول شئ دلته، تاسو معمولا 28 وخت لرئ ترڅو له هالنډ څخه د وتلو چاري تنظیم کړئ د دې دورې پای ته رسیدو وروسته، تاسو نور د پاتې کېدو حق نه لرئ له دې وروسته به د پناه غوښتونکو په مرکز کې د اوسېدو اجازه ونه لرئ آن د پناه غوښتني د پروسې وروسته، تاسو کولای شئ د VWN سره د مرستې او معلوماتو لپاره په اړیکه کې شئ

### بېرته ستنېدل

تاسو خپل اصلي هیواد ته د بیرته ستنیدو مسؤول یاست Dienst Terugkeer en Vertrek (DT&V) ستاسو سره د اخراج یا وتلو په چمتووالي کې مرسته کوي له همدې امله، به DT&V د پناه غوښتني د غوښتنلیک د ردېدلو وروسته ستاسو سره اړیکه ونیسي که تاسو په ټاکل شوې موده کې په خپلواکه توګه له هیواده ونه وځئ، DT&V شي تاسو مجبور کړي چې هالنډ پرېږدئ

ایا تاسو غواړئ د DT&V د وختي ستنیدو په اړه خبرې وکړئ؟ ستاسو وکیل یا VWN شي تاسو د DT&V وصل کړي تاسو کولای شئ په خپله د بریښنالیک له لاري د DT&V پر دغه پته اړیکه ونیسئ ilc@dtv.minvenj.nl

که تاسو غواړئ په خپله خوښه خپل اصلي هېواد ته ستانه شئ، مهرباني وکړئ د DT&V Internationale organisatie voor Migratie (IOM) اړیکه ونیسئ د دوی په ویبپاڼه کې دا چاري تشریح شوي دي همداراز په دې کې د بیرته ستنیدو په اړه معلومات هم شامل دي او دا چې تاسو د اخراج بنسټیزي مرستي او یا د بیا یوځای کېدو ملاتړ ترلاسه کولای شئ دوی کولای شی تاسو ته عملی معلومات چمتو کړي او ستاسو په اخراج کې مرسته وکړي تاسو کولای شئ د COA استوګنیز ځای کې IOM لاړ شئ تاسو کولای شئ د احتمالی بیرته ستنیدو او ملاتړ په اړه پوښتنو لپاره د VWN نورو سازمانونو سره اړیکه ونیسئ

## د شخصي معلوماتو پروسس کول

شخصي معلومات په دې مانا دي چې ستاسو په اړه به هر ډول معلومات پکې شامل وي هغه سازمانونه چې په دې رساله کې مرسته کوي لاندي ذکر شوي دي دا سازمانونه ستاسو د غوښتني، راپور یا غوښتني د پروسس کولو پرمهال شخصي معلومات پروسس کوي دوی ستاسو د معلوماتو غوښتنه کوي او د اړتیا په صورت کې له نورو سازمانونو یا اشخاصو سره اړیکه نیسي دا سازمانونه ستاسو له مالوماتو څخه استفاده کوي او هغه ذخیره کوي او د قانوني اړتیا په صورت کې یې نورو سازمانونو ته لیږدوي د محرمیت قانون د هغو سازمانونو لپاره مسؤلیتونه ټاکي چې ستاسو مالومات پروسس کوي د مثال په توګه، دوی باید ستاسو مالومات په دقیق او خوندی ډول اداره کړي د محرمیت په قانون کې ستاسو حقوق هم ټاکل شوي دي د مثال په توګه، د غوښتني پرمهال، تاسو لاندي حقونه لرئ

- ستاسو په هغه مالوماتو کې دقت او بصیرت چې سازمانونو ته ورکول کیږي؛
- په دې پوهېدل چې سازمانونه ستاسو د مالوماتو سره څه کوي او ولې؛
- په دې پوهېدل چې کومو سازمانونو ته ستاسو مالومات لیږدول شوي دي

ایا تاسو غواړئ د خپلو شخصي مالوماتو د پروسس او ستاسو د حقونو په اړه لا نور پوه شئ؟ مهرباني وکړئ د اړوندو سازمانونو ویبپاڼي وګورئ

## د کډوالۍ په توقیف ځای کې د پناه غوښتنه

ایا تاسو په هالنډ کې د پاتې کیدو اجازه نه لرئ او ایا تاسو پخپله هالنډ نه پریږدئ؟ په دې صورت کې تاسو کولای شئ د کډوالو په توقیف ځای کې پاتې شئ د کډوالو توقیفځای په یوه بنده ودانۍ د توقیف کور کې د پاتې کیدو په مانا دي د دې هدف دا دی چې هغه خلګ وساتی چې په هالنډ کې د پاتې کیدو اجازه نه لری او د اجباری خروج سره مخ دي

ایا تاسو د کډوالو په توقیفځای کې یاست او د پناه غوښتنه کوئ؟ ایا تاسو د پناه غوښتنه کوئ او وروسته به تاسو د کډوالو په توقیف کې یاست؟ له دې وروسته به ستاسې د پنا غوښتنه د Justitieel Complex Schiphol (JCS) لارې ترسره شي د پناه غوښتني اداره باید په شپږو اونیو کې ستاسو د غوښتنلیک په اړه پریکړه وکړي

تاسو به عموما د JCS ته لیږدول کیږئ مګر دا هم امکان لری چې تاسو په هغه ځای کې پاتې شئ چیرې چې تاسو اوس یاست ایا تاسو د لومړي ځل لپاره JCS ځئ او د پناه غوښتنه کوئ؟ بیا، کله چې تاسو راورسیږئ، IND وختونه تاسو ته اجازه درکوي چې یو کاغذي یا په کمپیوټر کې پوښتنلیک ډک کړئ دې فورم ته د ثبت فورمه ویل کیږي IND پریکړه وکړي چې د ثبت نام فورمه ونه کاروي، د مثال په توګه، کله چې دوی ډېر بوخت وي

تاسو به بیا د IND لومړی مرکه وکړئ، دې ته د ثبت یا راجسټر مرکه ویل کیږي دا یوه مهمه مرکه ده چې په دې کې IND ستاسو څخه پوښتني کوي د دې مرکې په جریان کې، IND مالومات ترلاسه کړی چې تاسو څوک یاست او له کوم ځای څخه راغلي یاست او همداراز ستاسو د سفر په اړه پوښتني کوي او دا چې ولې تاسو په هالنډ کې یاست ستاسو څخه به د لاندي مواردو په اړه پوښتني وشي

- ستاسو هويت، تابعيت، اصلي هيواد، استوګنځای او د ژوند چاپيريال؛
- کورنۍ؛
- اسناد؛
- ښوونه او روزنه؛
- د کار او ټولنيزو چارو وزارت؛
- په بېلابېلو هيوادونو کې ژوند کول؛
- هالنډ ته ستاسو سفر؛
- په لنډه توګه، هغه دليل چې له مخې يې تاسو د پناه غوښتنه کوئ

صادق اوسئ او ټل خپل ريښتيني مالومات ورکړئ له همدې امله، هغه مالومات مه کاروئ چې په غلط سفري سند کې شته همدارنګه، که تاسو مستعار نوم څخه استفاده کوئ وواياست که تاسو IND ناسم يا نيمګړی معلومات يا ډاټا ورکړئ، دا کېدای شي ستاسو د پناه غوښتنې د غوښتنليک پر پريکړه منفي اغېز ولري

IND مرکې راپور جوړوي تاسو به د خپل وکيل څخه د راپور يوه کاپي ترلاسه کړئ تاسو به يو وکيل ولرئ چې ستاسو سره د پناه غوښتنې د عمومي پروسې په چمتو کولو کې مرسته وکړي تاسو دا هم کولای شئ چې د خپل ځان لپاره يو وکيل ونيسئ ستاسو وکيل د پناه غوښتنې په اړه په قوانينو او مقرراتو پوهيږی او پوهيږي چې تفصيلي مرکه څومره مهمه ده دا مرکه د IND خبرې اترې دی چې هلته تاسو دا تشريح کوئ چې ولې تاسو د پناه غوښتنه کوئ معمولا تاسو اړتيا نه لرئ چې د وکيل لپاره پيسې تاديه کړئ دا هغه څه دی چې Raad voor Rechtsbijstand ستاسو لپاره ترسره کوي

د کډوالی په توقيف ځای کې د پناه غوښتنې عمومی طرزالعمل AA AA هغو پناه غوښتونکو لپاره يو ډول دی چې د کډوالی په توقيف کې نه دي د دې پاڼې په پورتنی برخه کې تاسو دا لوستلای شئ چې د AA AA هري ورځې پروسيجر ولولئ

**د پناه غوښتنې ساده پروسه**

ايا تاسو له يو خوندي هيواد څخه ياست، ايا تاسو د اروپايي اتحاديې د غړي هيواد تبعه ياست يا اوسمهال نړيوال محافظت لرئ؟ که داسې وی، نو احتمال شته چې تاسو ته به د پناه درنه کړل شي بيا به IND ستاسو غوښتنليک په ساده او ګړندۍ پروسه کې پروسس کړي د دې پروسې په جريان کې به تاسو يواځې د IND سره 1 مرکه ولرئ دا په هغه صورت کې هم د تطبيق وړ ده که تاسو لا له وړاندې په هالنډ، د اروپايي اتحاديې بل غړي هيواد، ناروې، آيسلينډ، ليختينستين يا سويس کې د پناه غوښتنې اجازه ولرئ IND ددې ارزونه کوي چې تاسو د پناه غوښتنې لپاره د خپلو دلايلو په اړه څه ويلي دي او پريکړه کوي چې آيا تاسو به د پناه غوښتنې اجازه ترلاسه کړئ که نه د پناغوښتنې د ساده پروسې په اړه نور مالومات په دې رساله کې ولولئ

*د خوندي هيوادونو ليست*

البانيا، ارمنستان، بوسنيا او هرزيګوينا، برازيل، جورجيا، ګانا، هند، جميکا، کوسوو، مراکش، منګوليا، مونټينيګرو، شمالی مقدونيه، سينيګال، سربيا، ټرينيډاډ او ټوباګو، تونس، متحده ايالات

دې ليست کې کېدای شي بدلون راشي هيوادونه ممکن اضافه يا حذف شي دا په يو هيواد کې د امنيتي کچې پورې اړه لري د خوندی هيوادونو ليست وروستی نسخه د ملی حکومت په ويبپاڼه کې شته www.rijksoverheid.nl

**د پناه غوښتنې له پروسې وروسته**

ايا IND د پناه غوښتنه ردوي؟ بيا د خپل وکيل سره په مشوره ، تاسو کولای شئ د دې پريکړې په اړه د هالنډ محکمې ته استيناف وکړئ دا په دې مانا ده چې تاسو په رسمی ډول محکمې ته راپور ورکوئ چې تاسو د IND پريکړې سره موافق نه ياست تاسو کولای شئ د محکمې څخه دا هم وپوښتئ چې ايا تاسو کولای شئ د استيناف پروسې په جريان کې په هالنډ کې پاتې شئ ستاسو وکيل به په دې برخه کې ستاسې سره مرسته وکړي

قاضي به بيا وګوري چې آيا IND د پناه غوښتنې په اړه د پريکړې پرمهال د هالنډ قانون په سمه توګه پلي کړی دی په ډېرو مواردو کې، تاسو کولای شئ په هالنډ کې د محکمې پريکړې ته انتظار وکړئ په هرصورت، تاسو به په يو بند ځای کې ياست

**بېرته ستنېدل**

که تاسو په هالنډ کې د پاتې کېدو اجازه نه لرئ، نو تاسو مسؤول یاست چې له هالنډ څخه ووځئ

Dienst Terugkeer en Vertrek (DT&V) شئ ستاسو سره مرسته وکړي چې د وتلو لپاره چمتووالی ونیسئ له همدې امله، به DT&V د پناه غوښتنې د غوښتلیک د ردېدلو وروسته ستاسو سره اړیکه ونیسي که تاسو په ټاکل شوې موده کې په خپلواکه توګه له هیواده ونه وځئ، DT&V شي تاسو مجبور کړي چې هالنډ پریږدئ ایا تاسو غواړئ د DT&V د وختي ستنیدو په اړه خبرې وکړئ؟ بیا ستاسو وکیل یا COA شي تاسو د DT&V وصل کړي یا تاسو کولای شئ زموږ سره د بریښنالیک ددې پتې له لارې اړیکه ونیسئ ilc@dtv.minvenj.nl

که تاسو غواړئ په خپله خوښه خپل اصلي هیواد ته ستانه شئ، مهرباني وکړئ د DT&V Internationale organisatie voor Migratie (IOM) اړیکه ونیسئ د دوی په ویبپاڼه کې دا چارې تشریح شوي دي همداراز په دې کې د بیرته ستنیدو په اړه معلومات هم شامل دي او دا چې تاسو د اخراج بنسټیزې مرستې او یا د بیا یوځای کیدو ملاتړ ترلاسه کولای شئ دوی کولای شي تاسو ته عملي معلومات درکړي او ستاسو په خروجي سفر کې درسره مرسته وکړي په معمولي ډول کولای شئ په توقیفي مرکز کې IOM مراجعه وکړئ تاسو کولای شئ د احتمالي بیرته ستنیدو او ملاتړ په اړه پوښتنو لپاره د VWN اړیکه ونیسئ

## هغه پوښتنې چې په مکرر ډول پوښتل کیږي

**د پناه غوښتنې عمومي پروسه کله پیلیږي؟**

د پولیسو سره د پناه غوښتونکي په توګه د راجستر کیدو وروسته، تاسو د IND لومړي مرکې ته انتظار کوئ دې ته د ثبت یا راجستر مرکه ویل کیږي له دې وروسته، تاسو لږترلږه 6 AA AA لرئ ترڅو د پناه غوښتنې پروسې چمتو شئ په عملي توګه مخکې له دې چې د پناه غوښتنې پروسه پیل شي، دا ډیر وخت نیسي په ځینو مواردو کې به تاسو د چمتووالي وخت ونه لرئ د COA استوګنځ مرکز کې به تاسو یو لیک ترلاسه کړئ چې په هغه کې IND ته د تفصیلی مرکې لپاره بلنه درکړي

**{زه باید د IND لخوا د پریکړې لپاره څومره وخت انتظار وکړم؟**

د پناه غوښتنې عمومي پروسه معمولا 6 AA 9 AA وخت نیسي ځینې وختونه IND شي کولای په دې موده کې پریکړه وکړي، د مثال په توګه په هغه صورت کې چې تاسو د پناه غوښتنې پروسې په جریان کې ناروغ یاست په داسې یو حالت کې، IND شی AA AA د اضافي 6 ډیرو کاري ورځو لپاره وغځوي د IND معمولا د شنبې او یکشنبې په ورځو تړلې وي دا د کاري ورځې نه دي IND شي د پناه غوښتنې د تمدید شوې پروسې په جریان کې ستاسو د پناه غوښتنې د لا ډیر پروسس کولو پریکړه وکړي بیا به تاسو د پناه غوښتنې د تمدید شوي طرزالعمل په اړه د نورو معلوماتو سره بله مالوماتي پاڼه ترلاسه کړئ قانون دا په ګوته کړي ده چې IND ستاسو د پناه غوښتنې له نیټې څخه په څو میاشتو کې پریکړه وکړي دا د قانوني پریکړې دوره ده د قانوني پریکړې د دورې په اړه مالومات په www.ind.nl/beslistermijnen www.ind.nl/en/decision-periods ولولئ ځینې وختونه د پریکړې موده غزول کیدای شی په هرصورت، IND د پریکړې کولو لپاره له 21 څخه ډیر وخت ونه نیسي

ایا IND ته د پریکړې په ټاکلې موده کې پریکړه نه ده لیږلې؟ په داسې یو حالت کې، تاسو کولای شئ د لیک له لارې د IND څخه غوښتنه وکړئ چې ژر تر ژره ستاسو د پناه غوښتنې په اړه پریکړه وکړي ستاسو وکیل کولای شي ستاسو سره په دې برخه کې مرسته وکړي

**زه غواړم چې د خپلې پناه غوښتنې کیسه یوه نارینه یا ښځینه ته ووایم. ایا دا تنظیمېدای شي؟**

هو، تاسو کولای شئ دا موضوع د ثبت په مرکه د IND مرکه کې په ګوته کړئ بیا IND کوي چې د تفصیلي مرکې لپاره یو نارینه یا ښځینه کارمند او یو نارینه یا ښځینه ژباړونکي برابره کړي

**که زه ناروغه یا میندواره شم نو څه باید وکړم؟**

که تاسو ناروغ یا میندواره یاست، د طبي مشورې لپاره د معاینې پرمهال نرس ته ووایاست دا پانه وګورئ مخکې له دې چې د پناغوښتنې پروسه پیل شي دا په ځانګړې توګه هغه مهال مهمه ده که تاسو فکر کوئ چې په ساري ناروغۍ اخته یاست، لکه نرۍ رنځ، خارش یا هیپاتیت بي هر هغه څه چې تاسو یې د نرس سره شریکوئ محرم ساتل کیږي نرس هیڅکله ستاسو له اجازې پرته نورو ته ستاسو روغتیایي مالومات نه ورکوي که تاسو د پناه غوښتنې پروسې په جریان کې ناروغ شئ، IND، COA VWN وواياست دوی کولای شی ستاسو سره د سمو طبي مرستو په ترلاسه کولو کې مرسته وکړي ایا تاسو په هغه ورځ ناروغ یاست چې تاسو د IND د خپل وکیل سره مرکه کوئ؟ بیا نو د COA غوښتنه وکړئ چې په دې اړه IND ستاسو وکیل ته راپور ورکړي

**ایا تاسو د دې مالوماتي پاڼې د لوستلو وروسته کومه پوښتنه لرئ؟**

تاسو کولای شئ دا پوښتنې د خپل وکیل یا د IND ، COA VWN سره مطرح کړئ

**ایا تاسو شکایت لرئ؟**

ټول هغه سازمانونه چې د پناه غوښتنې په پروسه کې ښکیل دي په مسلکي او دقیق ډول کار کوي ایا تاسو لاهم دا فکر کوئ چې ستاسو سره د یوې ادارې لخوا ښه چلند نه دی شوی؟ بیا نو تاسو کولای شئ شکایت ثبت کړئ ستاسو وکیل یا VWN شي په دې برخه کې ستاسو سره مرسته وکړي

| | |
|---|---|
| په لاربښوونه د:<br>Ministerie van Justitie en Veiligheid،<br>Directie Migratiebeleid<br>www.rijksoverheid.nl<br><br>د دې نشریې له محتوا څخه هیڅ حق نه شي اخیستل کیدای. که چیرې د ژباړې له امله ددې نشریې په تعبیر کې توپیر رامینځته شي، نو د هالنډي ژبې نسخې ته اعتبار ورکول کیږي. | دا ګنه د لاندې سازمانونو لخوا په ګډه خپره شوې ده:<br>Afdeling Vreemdelingenpolitie، Identificatie en Mensenhandel (AVIM)<br>Nidos<br>Centraal Orgaan opvang asielzoekers (COA)<br>Immigratie- en Naturalisatiedienst (IND)<br>Koninklijke Marechaussee (KMar)<br>Raad voor Rechtsbijstand (RvR)<br>VluchtelingenWerk Nederland (VWN)<br>Internationale Organisatie voor Migratie (IOM)<br>Dienst Terugkeer en Vertrek (DT&V) |